# د ښاروال دپاره ضمني ټاکنې

By-Election
VOTE
June 26

## جون 26

TORONTO

# د برېښنالیک له لارې د رایه ورکولو دپاره غوښتنه وکړئ

د دې ضمني ټاکنو دپاره تاسو کولی شئ د برېښنالیک له لارې رایه ورکول غوره کړئ. خپل غوښتنلیک د می 1 - 26 ترمنځه پر toronto.ca/VoteByMail وسپارئ.

# MyVote څخه پیل وکړئ

د می 1 راهیسې، وګورئ چې آیا تاسو د رایه ورکوونکو په نوملړ کې یئ، پر toronto.ca/MyVote خپل وارډ او د ښاروال دپاره سیالي کوونکي نوماندان مالوم کړئ.

## مهمې نېټې

### می 1

- **Mail in Voting [په رایه ورکولو کې برېښنالیک]** دپاره د غوښتنه کولو لومړی ورځ
- د **رایه ورکوونکو په نوملړ** کې د خپلو مالوماتو ورکولو، بدلولو یا تازه کولو لومړی ورځ

### می 15

- VoterRegistration@toronto.ca ته په برېښنالیک لېږلو یا 311 ته زنګ وهلو سره د Proxy [استازي] فورمې غوښتنه کولو او د هغې د تصدیق کولو دپاره د نېټې ترلاسه کولو لومړی ورځ

### می 23

- ورځتیا لرونکي رایه ورکوونکو ته به **Voter Information Cards [د رایه ورکوونکو مالوماتي کارتونه] (VICs)** لېږل کېږي
  - یوازې هغه په ورځتیا برابر رایه ورکوونکي چې د رایه ورکوونکو په نوملړ کې پر می 14، 2023 موجود وي، هغوی به د برېښنالیک له لارې VIC ترلاسه کوي. که تاسو د رایه ورکوونکو په نوملړ کې یئ او په برېښنالیک کې VIC ترلاسه نه کړئ، تاسو کولی شئ پر toronto.ca/MyVote د Myvote کارولو سره خپل کارت ته لاسرسی ولرئ.

### می 26

- د **Mail-in Voting** دپاره د غوښتنه کولو آخري وخت د مازیګر 4:30 دي.

### د جون 8 نه تر جون 13

- د سهار 10 بجو نه د مازیګر 7 بجو پورې **د مخه رایه ورکولو** شپږ ورځې

TORONTO

## جون 15

- د **Mail-in Voting** بشپړ شوې کڅوړې باید تر ماسپښین (12 بجې) ترلاسه شي

## د دوشنبې ورځ، جون 26

- د سهار 10 بجو نه د مازیګر 8 بجو پورې د ټاکنو ورځ

# د رایه ورکولو اختیارونه

## په شخصي ډول

تاسو کولی شئ د رایه ورکولو په هره ورځ په شخصي ډول رایه ورکړئ د مخه رایه ورکولو په اوږدو کې (جون 8 تر 13) یا د ټاکنو په ورځ، د دوشنبې ورځ، جون 26 رایه ورکړئ.

## د ډاک له لارې

گام 1: د Mail-in Voting دپاره غوښتنه وکړئ

- د می 1 څخه، toronto.ca/VoteByMail وګورئ
- د غوښتنې کولو آخري نېټه د جمعې ورځ، می 26 د مازیګر 4:30 بجې دي.

گام 2: خپله کڅوړه بشپړ کړئ

کله چې منظوره شي، د می 23 راهیسې به تاسو ته د Mail-in Voting یوه کڅوړه درلېږل کېږي چې بشپړه یې کړئ.

- Declaration Form [د اعلامیې فورمه] **لاسلیک کړئ**
- د رایه پر پاڼه **نښان ولږوئ**
- سیل کړل شوې Secrecy Envelope [پټه لفافه] په Yellow Return Envelope [زیړه واپسي لفافه] **کې ونبنباسئ**

گام 3: خپله کڅوړه په ډاک راولېږئ

- خپله بشپړ شوې کڅوړه د Canada Post کوم ډاک بوکسې ته وېسئ یا یې په لاس کې وېسئ او د Toronto Elections [د ټارنټو ټاکنې] زیړو بوکسه ته یې واچوئ.
- هر وارډ ته به د جون 1 راهیسې یوه زیړه بوکسه لري. د ځایونو نوملړ په toronto.ca/VoteByMail کې ورکړل شوی دی.
- بشپړ شوې کڅوړې باید په **جون 15 تر ماسپښین (12 بجې)** ترلاسه شي.

### د پوښتنو یا د لاسرسي د مالوماتو دپاره

- elections@toronto.ca ته برېښنالیک ولېږئ یا 311 ته زنګ ووهئ
- پر toronto.ca/VoteByMail نور مالومات ترلاسه وکړئ

## د Proxy [استازیتوب] له لارې

که تاسو نه شئ کولی په شخصي ډول یا د ډاک له لارې رایه ورکړئ، تاسو کولی شئ د رایه ورکولو استازی وټاکئ. استازی هغه کس وي پر کوم چې تاسو باور کوئ چې ستاسو پر ځای رایه ورکړي او د ښاروال دپاره د 2023 په ضمني ټاکنو کې وړ رایه ورکوونکی وي. Voting Proxy Appointment [د رایه ورکوونکي استازي ټاکنه] فورمه بشپړ کړئ، تاسو او ستاسو استازی يې لاسلیک کړئ، او پر جون 26 د مازیګر د 4:30 څخه وړاندې يې د ښار د کلرک څخه تصدیق کړئ.

د مې 15 راهیسې د استازي فورمه ترلاسه کولو دپاره د Toronto Elections [ټارنټو ټاکنو] سره اړیکه ونیسئ او د تصدیق د نېټې ټاکلو دپاره VoterRegistration@toronto.ca ته برېښنالیک ولېږئ یا 311 ته زنګ وهئ.

نور مالومات پر toronto.ca/ByElection ترلاسه کړئ.

# څوک رایه ورکولی شي

د ښاروال دپاره د 2023 ضمني ټاکنو کې رایه ورکولو دپاره تاسو باید يئ:

- د کاناډا اوسېدونکي؛ او
- لږ تر لږه 18 کلن؛ او
- د ټارنټو په ښار کې اوسېږئ؛ یا
- د ټارنټو اوسېدونکي نه يئ، خو تاسو یا ستاسو ښځه یا مېړه په دې ښار کې شتمني لري یا په کرایه شتمني لري؛ او
- د کوم قانون ترمخه د رایه ورکولو مخه نه وي نیول شوې.

تاسو کولی شئ یوازې یو ځل رایه ورکړئ پرته له دې چې تاسو په دې ښار کې څومره شتمني لرئ یا مو په کرایه نیولې ده.

# د رایه ورکوونکو نوملړ ته ورشئ

ډا ګټل مهم دي چې آیا د رایه ورکوونکو په نوملړ کې ستاسو مالومات سم دي، په ځانګړې توګه که تاسو د تېرو ټاکنو څخه وروستو کډه شوي يئ یا مو خپل نوم بدل کړی وي. که ستاسو نوم د رایه ورکوونکو په نوملړ کې وي نو تاسو به په برېښنالیک کې Voter Information Card [د رایه ورکوونکي مالوماتي کارت] ترلاسه کړئ.

د مې 1 څخه نېولې تر مې 26 پورې، د رایه ورکوونکو په نوملړ کې خپل مالومات وګورئ، اضافه کړئ یا تازه کړئ:

- toronto.ca/MyVote کتلو له لارې
- VoterRegistration@toronto.ca ته برېښنالیک لېږلو له لارې
- 311 ته زنګ وهلو له لارې

د مې 26 څخه وروستو، تاسو کولی شئ خپل نوم د رایه ورکوونکو په نوملړ کې شامل کړئ کله چې تاسو د مخه رایه ورکولو په اوږدو کې (د جون 8 څخه تر 13) یا د ټاکنو په ورځ (جون 26) په شخصي ډول رایه ورکولو دپاره لاړ شئ.

**تاسو باید خپل پېژندکارت راوړئ کله چې تاسو د رایه ورکولو دپاره ځئ، که څه هم ستاسو نوم د رایه ورکوونکو په نوملړ کې وي.**

TORONTO

# د رایه ورکولو ورځې

## د ټاکنو ورځ

د دوشنبې ورځ، جون 26، 2023 د سهار د 10 بجو نه د ماښام تر 8 بجو پورې که تاسو د ټاکنو په ورځ رایه ورکول خوښوئ او تاسو ګڼې شتمنۍ لرئ یا مو په کرایه نیولې وي، تاسو کولی شئ یوازې یو ځل رایه ورکړئ او تاسو باید په هغه وارډ کې رایه ورکړئ چیرته چې مېشت یئ.

## د مخه د رایه ورکولو ورځې

د مخه د رایه ورکولو د شپږو ورځو په اوږدو کې، د پنجشنبې ورځ، جون 8 څخه تر د سې شنبې ورځ، جون 13 د سهار د 10 بجو نه د ماښام تر 7 بجو پورې د وخته رایه ورکړئ.

MyVote وکاروئ یا toronto.ca/AdvanceVote ته لاړ شئ او خپل پر Voter Information Card د مخه د رایه ورکولو ځایونه مالوم کړئ. تاسو کولی شئ د مخه د رایه ورکولو د ورځو په اوږدو کې په ټول ښار کې د رایه ورکولو په ځایونو کې په کوم کې هم رایه ورکړئ.

# د زده کوونکو دپاره مالومات

که تاسو زده کوونکي یئ او خپل "کور" هغه ځای ګڼئ چیرته چې تاسو مېشت یئ کله چې تاسو ښوونځای ته نه ځئ، دا په دې مانا چې تاسو دغلته د ستنېدو پلان لرئ، نو بیا تاسو وړتیا لرئ چې خپل د "کور" په ښاروالۍ کې او په هغه ښاروالۍ کې د رایه ورکولو وړتیا ولرئ چیرته چې تاسو اوسمهال اوسېږئ کله چې تاسو ښوونځای ته ځئ. نور مالومات پر toronto.ca/ByElection ترلاسه کړئ.

# MyVote

د MyVote وېب اپیلیکیشن هر څه لري ترڅو د ښاروال دپاره د 2023 ضمني ټاکنو دپاره تاسو پیل وکړئ.

د مې 1 راهیسې، **toronto.ca/MyVote** ته لاړ شئ او خپل د ټارنټو ادرس ولیکئ ترڅو:

- تاسو مالوم کړئ چې ستاسو نوم د رایه ورکوونکو په نوملړ کې شته
- د رایه ورکوونکو په نوملړ کې خپل مالومات ورکړئ، بدل کړئ یا تازه کړئ (د مې تر 26مې پورې)
- د ښاروال دپاره سیالي کوونکي نوماندان وګورئ
- خپل وارډ او نخشه مالومه کړئ
- خپل Voter Information Card وګورئ، ډاونلوډ کړئ یا چاپ کړئ (د جون 1 نه به پیلېږي)
- مالوم کړئ چې چیرې او کله باید رایه ورکړئ (د جون 1 نه به پیلېږي)
- خپل د رایه ورکولو د ځای په اړه د لاسرسي مالومات مالوم کړئ (د جون 1 نه به پیلېږي)
- د خپلې د رایې پاڼې نمونه ووینئ (د جون 1 نه به پیلېږي)

MyVote په دوامداره توګه ګورئ مخکې تر دې تاسو په شخصي ډول رایه ورکوئ، ځکه چې د رایه ورکولو ځایونه بدلېږي.

# Voter Information Card [د رایه ورکوونکو مالوماتي کارت]

**د رایه ورکوونکو مالوماتي کارتونه (VICs) به د مې 23 راهیسې په ډاک کې وي.** د رایه ورکولو ځای ته خپل VIC وړل به د رایه ورکولو پروسه لا اسانه کړي. ستاسو VIC د پېژندنې په توګه نه شي کارېدلی.

د رایه ورکولو دپاره تاسو VIC ته اړتیا نه لرئ.

- که ستاسو نوم د رایه ورکوونکو په نوملړ کې وي او تاسو خپل VIC نه وي ترلاسه کړی، خو ستاسو په کورنۍ کې چا ترلاسه کړی وي، کېدی شي دا ځکه چې Canada Post کارتونه په بېلو بېلو بستو کې لېږي.
- که تاسو د یو نه زیات VIC ترلاسه کړئ، نو کله چې تاسو رایه ورکولو ته ځئ د رایه ورکولو ځای ته تر ټولو درست کارت راوړئ کوم چې ستاسو د پېژندګلو سره سمون لري.
- که تاسو خپل VIC ترلاسه کړئ، خو مالومات پکې ناسم وي، تاسو کولی شئ دغه کارت د ځان سره یوسئ کله چې د رایه ورکولو دپاره ځئ او د Voter List Amendment Application [د رایه ورکوونکو د نوملړ د ترمیم غوښتنلیک] بشپړولو غوښتنه وکړئ.
- که تاسو د داسې کوم تن VIC ترلاسه کړئ کوم چې ستاسو په کورنۍ کې مېشت نه وي، نو تاسو کولی شئ پر کارت Return to Sender [بېرته لېږونکي ته] ولیکئ او د Canada Post د ډاک یوې بوکسې ته یې واچوئ.

نوره زده کړه وکړئ پر: toronto.ca/VIC

# د لاسرسي مالومات

**که تاسو په رایه ورکولو کې له کوم خنډ سره مخ یئ، نو د Toronto Elections [د ټارنټو ټاکنې] سره پر elections@toronto.ca د برېښنالیک لېږلو یا 311 ته زنګ وهلو له لارې اړیکه ونیسئ.**

## د رایه ورکولو ځایونه

هغه ټول ځایونه به د لاسرسي وړ وي چېرته چې تاسو رایه ورکوئ. د هر ځای په اړه مالومات، د بېلګې په توګه رامپونه، د ځانه ورونه خلاصوونکي یا Voter Assist Terminals [د رایه ورکوونکو د مرستې ځایونه]، به ترلاسه وي پر: toronto.ca/ByElection.

## د لاسرسي وړ د رایه ورکولو الات

Voter Assist Terminal [د رایه ورکوونکو د مرستې ځایونه] د رایه پر پاڼه نښان لګوونکې اله ده کومه چې معیوبې لرونکي رایه ورکوونکو ته دا فرصت ورکوي چې خپل د رایه پر پاڼه په پټه او خپلواکه توګه نښان ولګوي. په دې ځانګړتیاو کې ټچ سکرین، یو آډیو فنکشن، بریل کې پیډ، د څکولو/بوبولو د نل اله، راکر پیډل/د پښې سویچ او د زوم ځانګړتیاوې چې د لیک سایز او د رنګ تېزوالی سموي، شاملې دي.

Voter Assist Terminals [د رایه ورکوونکو د مرستې ځایونه] به د رایه ورکولو په ټولو غټو ځایونو کې ترلاسه وي. که چیرې تاسو د رایه ورکولو په ورځ د Voter Assist Terminal [د رایه ورکوونکو د مرستې ځای] ته اړتیا لرئ او ستاسو د رایه ورکولو ټاکل شوي ځای کې ترلاسه نه وي، نو تاسو کولی شئ 311 ته زنګ ووهئ او د خپلې رایه پاڼې د لېږدولو غوښتنه وکړئ.

## نور خدمتونه

- که تاسو نه شئ کولی په شخصي توګه رایه ورکړئ نو د بریښنالیک له لارې د رایه ورکولو غوښتنه وکړئ. د غوښتنې کولو دپاره toronto.ca/VoteByMail ته لاړ شئ.
- د رایه ورکولو په اړه لارښوونې به د بریل په بڼه کې او په 26 ژبو کې د رایه ورکولو په ټولو ځایونو کې ترلاسه وي.
- د غټو تورو پاڼې به د رایه ورکولو په ټولو ځایونو کې ترلاسه وي تر څو د هغه رایه ورکوونکو مرسته وکړي چې ټیټ لید لري.
- که تاسو په فزیکي توګه نه شئ کولی د رایه ورکولو ځای ته دننه لاړ شئ نو تاسو کولی شئ د رایه ورکولو په ځای کې دننه بل کوم ځای ته د تللو غوښتنه وکړئ، د بېلګې په توګه، د موټرو درولو ځای یا کرب. د نورو مالوماتو دپاره 311 ته زنګ ووهئ.
- که تاسو په خپله نه شئ کولی د رایه ورکولو پر پاڼه نښان ولږوئ نو تاسو کولی شئ خپل دوست د ځان سره مرستې دپاره راولئ یا د ټاکنو د چارواکي څخه د مرستې غوښتنه وکړئ.
- د رایه ورکولو ټول ځایونه د ملاتړ کوونکو تنانو یا د خدمت د ځناورو کارول خوښوي.
- د رایه د پاڼې د لېږد غوښتنه په هغه شرایطو کې کېدی شي چیرته چې رایه ورکوونکی د رایه ورکولو په ټاکل شوي ځای کې د کوم خنډ سره مخ شي. د مخه 311 ته زنګ وهئ.
- که تاسو نه شئ کولی د رایه ورکولو پر ټاکل شویو ورځو کې په شخصي توګه یا د بریښنالیک له لارې رایه ورکړئ، نو تاسو کولی شئ د رایه ورکولو یو استازی وټاکئ، VoterRegistration@toronto.ca ته بریښنالیک ولېږئ.
- د کڼو یا په غوږونو درنو تنانو دپاره د ټاکنو مالومات د TTY لیکې ته پر OTTY-338-416 (0889) زنګ وهلو سره ترلاسه کېدی شي.

نور مالومات ترلاسه کړئ پر: toronto.ca/AccessibleElections

# د منلو وړ پېژندنه

کله چې تاسو د رایه ورکولو دپاره ځئ نو پېژندنې (ID) ته اړتیا وي. په یاد ولرئ چې د پېژندنې کومه ټوټه راوړئ چې ستاسو نوم او د ټارنټو ادرس ولري. ستاسو Voter Information Card [د رایه ورکوونکي مالوماتي کارت] د پېژندنې د یوې برخې په توګه نه شي کارېدلی.

## د منلو وړ پېژندنې بېلګې:

- د انټاریو له خوا ورکړل شوې د ډرېورۍ لېسانسه یا د موټراجازه لیک (د موټر برخه)، فوټو کارت.
- کېنسل شوی شخصي چیک، کریډیټ کارت یا د بانکي کاتې بیان.
- د اوبو، ټېلفون یا کېبل ټي وي، اوبو، ګاز دپاره یوټېلېټي بیل، د عامو افادیتونو د کمېسیون له خوا کوم بیل.
- د چیک ټوټه، 4T بیان یا د تادیې رسید چې د کار ګومارونکي له خوا ورکړل شوی وي.
- د Ontario Works [د انټاریو کارونه] یا د Ontorio Disability Support Program [د انټاریو د معیوبۍ مرستندویه پروګرام] دپاره د نېغه په نېغه پېسې جمع کولو بیان.
- د شتمنۍ د ټیکس ارزونه، د عایداتو د ټیکس د ارزونې خبرتیا، د ماشومانو د ټیکس د ګټې بیان.
- د ګروي بیان، د ایجارې یا کرایې تړون.
- د دوهم څخه وروستو ښوونځي څخه نقل یا راپور کارت.
- هغه سندونه چې په کېمپس کې د اوسېدو څرګندونه کوي، او د دوهمې څخه وروسته کومه اداره کې د زده کوونکو د مېشت ځای دپاره ذمه وار دفتر یا چارواکي له خوا ورکړل شوی وي.
- د کاناډا د حکومت، انټاریو یا په انټاریو کې د کومې ښاروالۍ له خوا بل کوم سند، یا کوم سند چې په انټاریو کې د کومې محکمې له خوا ورکړل شوی او تصدیق شوی وي.
- په انټاریو کې د Indian Act (Canada) [د انډین قانون (کاناډا)] ترمخه تاسیس کړل شوي Band Council [بېنډ کاونسل] له خوا کوم سند.
- د بیمې پالیسي یا د بیمې بیان.
- د کوم مالي ادارې سره د پور تړون یا بل کوم مالي تړون.
- د Employment Insurance Benefits Paid T4E [د استخدام د بیمې ګټې تادیه شوې T4E] بیان.
- د Old Age Security T4A (OAS) [د بوډاوالي تحفظ T4A (OAS)] بیان، Canada Pension Plan Benefits T4A (P) [د کاناډا د تقاعد پلان ګټې T4A (P)]، Canada Pension Plan Statement of Contributions [د کاناډا د تقاعد د پلان د بسپنو بیان].
- 5007Workplace Safety and Insurance Board Statement of Benefits T [د کارځای خوندیتوب او د بیمې د اداري ډلې د ګټو بیان 5007T].
- CNIB کارت یا د بلې کومې داسې راجسټر شوې خېراتي ادارې له خوا کارت چې معیوبې لرونکو تنانو ته خدمتونه وړاندې کوي.

TORONTO

- داسې سند چې د 2007م د اوږدمهاله پاملرنې کورونو قانون ترمخه په کوم اوږدمهاله پاملرنې کور کې استوګنه څرګندوي، کوم چې د دغې کور د اداري چارواکو له خوا ورکړل شوی وي.

که تاسو د منلو وړ ID نه لرئ او د رایه ورکوونکو په نوملړ کې مو نوم نه وي، نو ستاسو څخه به غوښتنه کېږي چې د رایه ورکولو پاڼه ترلاسه کولو دپاره د خپلې ID سره بېرته راشئ.

# ټولنیزه رسنۍ، وېب او برېښنالیک

**ټویټر:** @cityoftoronto

**فیسبوک:** City of Toronto

**انسټاګرام:** @cityofto

**وېبپاڼه:** toronto.ca/ByElection

**برېښنالیک:** elections@toronto.ca

# د مالوماتو ژباړه

که تاسو په بله کومه ژبه کې مالومات غواړئ نو 311 ته زنګ ووهئ یا toronto.ca/elections/Voters وګورئ